په ICRC د سایبري برید په اړه پوښتنه او ځواب

مختصراً: څه شوي و؟

په 18 جنورۍ 2022، ICRC ته معلومه شوه چې د دې په ډېټابېس باندې سایبري برید شوی دی. دغه ډېټابېس زمونږ د اېس آر سي د تعقیب د خدمت (SRC Tracing Service) د کار په اړه و. د لټون په پوښتنو کې ټول جاري او بشپړ شوي معلومات په دغه ډېټابېس کې خوندي کیږي.

ICRC په بشپړه توګه د دغه سایبري برید پلټنه کوي. په دې کې له 60 څخه د زیاتو سره صلیب (Red Cross) او سرې میاشتې (Red Crescent) د ټولنو ډېټا خوندي شوي او دا په نړیواله توګه تبادله کیږي.

سایبري برید کوونکي نامعلومه دي. تر ننۍ ورځ پورې، داسې څه ثبوت نشته چې دغه غلا شوي ډېټا خپره کړی شوي ده.

مونږ دا شخصي ډېټا ولې ساتو؟

مونږ د خلکو د بې درکه خپلوانو د لټون د مرستې لپاره زیاتو معلوماتو ته اړتیا لرو. آخري ځل خپلوان کوم ځای لیدل شوي و؟ هغوی ورسره په آخري ځل کله تماس نیولی و؟ دا ټول معلومات په لټون کې مرسته کوي. د متاثره شوي شخص په موافقه دا معلومات په ټاکلي توګه په شبکه کې دننه شریکیږي – چې په دې سره د بې درکه خپلوانو د موندلو فرصتونه ډیریږي. د دې مرستې وړاندې کولو لپاره، مونږ اکثر شخصي جزیاتو راټولولو او خوندي کولو ته اړتیا لرو.

په دې سایبري برید کې څومره ډېټا شامله ده؟

په دې برید کې شاخوا 18,000 پورې د ډېټا سیټونه شامل دي. په دغه ډېټا کې هغه شخصي جزیات شامل دي چې د خپلوانو لټون کوونکو مونږ ته راکړي و. په دې کې حساسه ډېټا هم شامل ده، لکه،

- بشپړ نوم
- د اړیکې جزیات (بریښنالیک ادرس، د تلیفون شمیره او داسې نور)،
- د کورنۍ د هغه غړیو نومونه او نور شخصي جزیات چې لټون یې کیږي،
- د هغوی د بې درکه کیدو د وضعیتونو جزیات، او
- د لټون او د تماس نیولو لپاره خط او کتابت او اسناد.

سایبري جنایتکاران د دې ډېټا سره څه کوي؟

اوسمهال، ICRC فکر کوي چې دا ډېټا نقل شوې او صادره شوي ده. تر ننۍ ورځې پورې، داسې څه ثبوت نشته چې دا خپره کړی شوي ده یا یې د خرڅلاو وړاندیز شوی دی. د ICRC ټیمونه په احتیاط سره د دې پیښې د څارنې لپاره محرک کړل شوي دي. کله چې دا سایبري بریر څرګند شو نو ICRC د حفاظتي اقدام په توګه په ټوله نړۍ کې سمدلاسه دغه ډېټابېس ته لاس رسی لرل وځنډولو.

ICRC څه کوي؟

د دې سايبري برید اندازه او تاثیر لا تراوسه معلوم نه دی. ICRC د دې برید په اړه پلټنه کوي او د دې د خطرو او تاثیر جانچ اخلي.

www.icrc.org/en/document/icrc-cyber-attack-analysis

SRC څه کوي؟

د ICRC سره په همکارۍ به موږ د اغیزمن شویو کسانو لپاره د احتمالي خطرو جانچ په دوامداره توګه اخلو او که چیرې اړتیا وي، په مخصوص مواردو کې به ځانګړې اقدام ترسره کوو.

د سویس (Swiss) چارواکو ته په شفافه او بشپړه توګه خبر ورکړل شوی. SRC د هغوی سره په تماس کې دی او د همکارۍ لپاره سره موافق دي.

SRC د ډېټا خوندیتوب او د معلوماتو امنیت ډیر په جدي توګه اخلي. موږ د صنعت د معیارونو سره سم خپل د آیي ټي سسټم خوندي کوو، او کله چې اړتیا وي، ستاسو د ډېټا د خوندي کولو او تر ممکن حده د احتمالي خطرو د کمولو لپاره ټول اړین اقدامات ترسره کوو.

کوم کسان چې په احتمالي توګه اغیزمن شوي دي، هغوی څه کولای شي؟

که تاسو څه غیر عادي وضعیت ووینئ، موږ ته خبر راکړئ. که تاسو کومې پوښتنې یا اندیښنې لرئ، موږ ته زنګ ووهئ. موږ دلته ستاسو د مرستې لپاره موجود یو.

حفاظتي اقدامات

- که تاسو کوم شکمن بریښنالیک یا ټیکسټ پیغام ترلاسه کړئ، سمدلاسه یې ډیلیټ کړئ. دا فاروډ کوئ مه. دا پیغام بنایي د بنې سرچینې څخه وي (لکه، سره صلیب).
- هیڅکله هم شکمن پیغامونو ته ځواب مه ورکوئ او خپل شخصي معلومات مه داخلوئ، لکه، ستاسو کارن نوم، پاس ورډ، آیي ډي نمبر، روغتیایي معلومات او داسې نور.
- که څه شک لرئ، له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ:
  .tracing@redcross.ch / 058 400 43 80

د سایبر برید پایلې او هدف څه دي؟

د سایبري جنایتکارانو موخې لا تراوسه معلومې نه دي. اوسمهال، دا فکر کیږي چې دغه ډېټا کاپي شوي او صادره شوي ده. پایلې اوسمهال د غیرمجاز کسانو له خوا د غیر قانوني لاسرسۍ پورې محدودې دي. تر ننې ورځې پورې، دغه ډېټا خپره شوي نه ده او نه ترې څه ناوړه استفاده شوي ده. نورې موخې اوسمهال څرګندې نه دي. کله چې خلک بې درکه شوي وي، د هغوی کورنۍ او عزیزان زیاته ویره او غیریقیني وضعیت لري. دې سایبري برید د سره صلیب او سرې میاشتې شریکانو سره زموږ په همکارۍ کې په جدي توګه خنډ رامنځته کړې او په دې کار کې هم چې کورنیو ته دا ځوابونه ورکړو چې د هغوی

خپلوان کوم ځای دي. هره ورځ، د سره صلیب او سري میاشتې تحریک له 12 خلکو سره مرسته کوي چې د خپلوانو سره بیا په تماس کې شي. دې سایبري برید دا مهمه دنده له خطر سره مخ کړې ده.

آیا د SRC نوره ډېټا هم اغیزمنه شوې ده؟

د SRC د آیي ټي نور سسټمونه د دې سایبري برید څخه نه دي اغیزمن شوي. دا په دې مانا چې یوازې د اېس آر سي د تعقیب خدمت (SRC Tracing Service) ډېټا اغیزمنه شوي ده. د مرستندویه خلکو ډېټا او د بیلګې په توګه، د روغتیاساتنې د مختصصینو د نوم لیکنې جزیات نه دي اغیزمن شوي.

د تماس جزیات:

که تاسو کومې پوښتنې لرئ، تاسو زمونږ د اېس آر سي د تعقیب خدمت (SRC Tracing Service) سره په مستقم ډول اړیکه نیولی شئ.

tracing@redcross.ch, 058 400 43 80